حبیب الله غمخور ٢٠١١/١١/١٣

# لندن ته تبنتیدلی جنرال مشرف دآي اس آي

## ویاند او مشاور ټاکل سوی

پدې ورستیو دومیاشتوکي پر امریکا اونړیوالي ټولنې باندي دافغانستان دعام ولس، دپله ایزورسنیو، سیاسي څیړونکو او افغان روڼ اندو پرله پسې سیاسي او تبلیغاتي فشارونو اوکلک غبرګون دا ګټه ورسول ترڅو نړیواله ټولنه ز موږ سره داخبره ومني چې په افغانستان، سیمه او نړی کښي د فساد کور به او پالونکی پاکستان او دهغه پوځی او استخباراتي اداره (آي اس آي) چارواکي دي.
د پاکستان د پوځی مرکزپه زړه کښي دبن لادن وژني ټولي نړۍ ته دا خبره لمر غوندې په ثبات ورسول چې پاکستان نه یوازي افغانان غولوي د هغوي دښیرازه، بسیا ا وسوله ایز ژوند د ښمنان روزی بلکې د هغو دښمنان هم ساتي او پالي د کومو له برکته چې پاکستان، پاکستان شو!
نورنه پاکستانی چاروکو او نه هم د پاکستان څخه د دفاع په موخه امریکاته کوم دلیل پاته سوچي له پاکستان څخه دفاع وکړي او یاهغه خپل رښتیانی دوست وبولي.
افغان روڼ اندو د خپل هیواد زیاتیدونکو ورانیو او ناخوالو، د پاکستان بربنډو لاسوهنو چي ان زموږ پر پاکه او مقدسه خاوره د توغندیو ا ووسله والو حملو تر کچې ورسیده مجبورکړل، له امریکا او نړیوالي ټولنې پوښتنه وکړي چي تاسو دلته دڅه لپاره راغلي یاست؟ ایاسوله او ثبات پدې بڼه راتلاي سي؟ ایا په سیمه کې د ترهګرو او بنسټپالو جرړې پدې ډول ایستل کیږي لکه چي تاسو پرې لګیا یاست؟ ایا تاسوئي نه وینئ چي دوي له کومه ځایه راځي؟ او داسي نوري پوښتني.
له همدې امله امریکا او نړیواله ټولنه مجبوره سول له پاکستاني چارواکونه د ترهګری پرخلاف د عملي ګامونو د او چټیدو غوښتنه وکړي، داغوښتنه هغه وخت په زرغده وسول کله چي د ځان مرګولخوا په کابل کښي امریکاسفارت په نخښه سو.
داسي معلومیږي چي پاکستاني جنرالان دعادت له مخې د امریکا او نړیوالي ټولنې د فشارونو په وړاندې له مخامخ غبرګون ښکاره کولونه ډاریږي، ځکه نوخپلې خبرې د پاکستان څخه تبنتیدلي جنرال مشرف په خوله کوي.
جنرال مشرف دده د حاکمیت په وخت کې چي نیغ په نیغه ئې د افغان ولس سره خپله دښمنی پر مخ بیوله له ډله ایزو رسنیو سره دومره زیاتي مرکې نه دې کړي لکه چي پدې دومیاشتوکي ئي د افغانستان په اړوند د هرې مسلې په هکله ګویا خپل نظر څرګند کړی. او دا هم موږته سوال برانګیزه خبره ده چي د انګلستان ډله ایزي رسنۍ او په ځانګړې توګه بې بې سي ولې دومره لیواله ده؟ هغه څوک چي په خپل هیوادکي د پښې ایښودلوځاي نلري اوله هغه ځایه راتښتیدلی دی ، هره ورځ دده سره د افغانستان د مسائیلو په وړاندې مرکې کوي؟ ایاپه پاکستان کي بل هوښیارنسته همدا یو جنرال مشرف دی؟ که دومره هوښیار سیاستوال دی نولندن دې د پاکستاني محکمونه دهغه د برآت غوښتنه وکړي او پاکستانیانونه دې وغواړي چي جنرال مشرف یوځل بیاهلته دولتي واګې پلاس کي واخلي. زماپه فکر ښه به داواي چي په پاکستان کي د نورو سیاستوالو او سیاسي ګوندونو له رهبرانو، د پښتنواو بلوڅو درهبرانو څخه وخت په وخت پوښتنې سوی واي چي د دوي ارزونه څه ده او د حل لپاره ئي کومه مرسته او وړاندېزونه کولاي سي؟
مشرف چي دخپل هیواد دمحکمې دپرېکړې له ډارنه پاکستان ته نسي تلاي خوبیا هم د افغانانود سره خپله دښمنی ساتي او د یوکمزوري او ربړېدلي افغانستان خوبونه ویني ځکه نو د پاکستان استخباراتي ادارې او جنرالانو ته دافغان ولس سره د تاریخي دشمنۍ د دوام په موخه مشورې ورکوي.
سره لدې چي نړۍ ته لمر غوندي ثابته سوې ده چي پاکستان د نړیوال تروریزم مرکز دی خو بیاهم دادی جنرال مشرف د خپلو کرغیړنو مخو په خاطر نارواخرګندونې لري .
دبیلګې په توګه وایي: که افغانستان هند ته ډېر نږدې شي، نو د پاکستان څارګره اداره ای اېس ای دې ته اړتیا لري چې په افغانستان کې د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره ګامونه پورته کړي.
نوموړي په واشنګټن کې یوې غونډې ته په وینا کې وویل: (( اوسمهال افغان ډیپلوماټان، امنیتي ځواکونه او د څارګرو ادارو کارکوونکي د زده کړو لپاره هند ته ځي. اود پاکستان پرضد له هند څخه دکتورین ترلاسه کوي او بیرته راځي، موږ باید د دغو چارو د جاري ساتلو ته اجازه ورنه کړو، که داسې کیږي نو هیڅوک باید غوسه نه شي که پاکستان ای اېس ای ته امر وکړي چې په افغانستان کې د خپلو ګټو د ساتلو لپاره مقابلې ته مخه کړي او په وړاندې یې ګامونه پورته کړي .)) ٢٠١١/١٠/٢٧ تاند


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پرویزمشرف دا څرګندوني د دې ثبوت دی چي په پاکستان کي هرڅه د آي اس آي پلاس کي دي، دا دغه اداره ده چي د هرڅه په وړاندي تصمیم نسي، کنه نومشرف به ویلي وایي چي د پاکستان حکومت اړدي چي د خپلو ګټولپاره آي ایس آي ته امر وکړي ..... که داسي نه واي نود دې ادارې پر ځاي به ئي د حکومت نوم اخیستی واي.
د دې افغان دښمنه له څرګندونو څخه دده کینه او دښمني له ورایه څرګندیږي. دا چي جنرال مشرف تر هرچا زیات د دې لیوال دی چي زموږ ملکي او پوځی کارمندان په پاکستان کي وروزل سي، زموږ سره د دوستی بیلګه نده، بلکې له دې لاري غواړي زموږ د هیواد پوځ هم تر خپلې سلطې لاندي راولي . جنرال مشرف پدې هم ښه پوهیږي چي موږ افغانان دې ټکي ته جدي پاملرنه کوی چي ولي پاکستاني چارواکي غواړي زموږ د امنیتي ځواکونو افسران د دوي د استخباراتي شبکولخوا وروزل سي؟ افغانان همدا اوس چي ښاغلي کرزی د ستانبول په نمایشی کنفرانس کښي ورسره منلې چي ځیني پوځي افسران به دزده کړې لپاره پاکستان ته ولیږل سی، پر کرزی په کلکه په غوسه دي او په ریشخند سره یو اوبل ته وایي ((مبارک دې سه پوځیان به موآي ایس اي راروزي.)) دهیڅ افغان لپاره دمنلو وړنده چي زموږ پوځي او امنیتي ارګانواو ادارو افسران په هغه هیوادکي وروزل سي چي دجوړېدوله لمړنی ورځي زموږ سره دښمني لري او په ټول قوت او طاقت د دې لپاره تلاښ کوی چي افغان ولس له کړاونو او خواریوسر لاس په ګرېوان وي.
کله چي داکتوبرپه میاشت کي ښاغلي کرزی دپاکستان د جیوتلوېزیوني شبکې سره په مرکه کي بې مسولیته څرګندونې وکړې اووئي ویل : ((که چیرې پر پاکستان بهرنې برید وشي نوافغانان به د پاکستیانیانو ملاتړ وکړي)) بیاهم جنرال مشرف ددې پر ځاي چي دکرزی ستانیه ئي کړې واي په زیات غرورسره وویل، ښاغلي کرزي ته مشوره ورکوم چې د خپل هیواد امن ته پاملرنه وکړي. ګران افغانستان ویب پاڼه
جنرال مشرف لکه ټول پاکستاني چارواکي په افغانستان کي خپل نفوذ اولاسوهنې نه پټوی وایي: ((پاکستان په افغانستان کې خورا مهمه ونډه لوبوي، پاکستان له هرې واقعې چې د ۸۹ کال او ۲۰۰۱سپتمبر یوولسمې نیټې د پیښو ترمنځ په افغانستان کی پیښې شوي، نیغ په نیغه اغیزمن شوی دی.)) خبریال ویب پاڼه اکتوبر
د اکتوبرپر ۲۴ مه همدې جنرال مشرف د امریکا او افغان دولت د دې نظرپه وړاندي چي د حقاني شبکه دې په پاکستان کي وترټل سي په غبرګون کښي د ایکسپریس تریبون ورځپاڼي سره په خبروکي وویل: (( د حقاني دشبکې په وړاندي هر ډول عمل د پاکستان ګټې له ګواښ سره مخامخ کوي.))
مشرف دا څرګندونې پسله هغه وکړې کله چي مایك مولن، اعلان وکړ چي د پاکستان اداره په فعال ډول د القاعدې پورې مربوطوشبکو سره مرسته کوي. دغه امریکایي چارواکي د پاکستان استخباراتي ادارې باندي تور ولګاوه چي په کابل کښي د امریکا پر سفارت د تروریستي حملې نقشه د دوي لخوا ورته جوړه سوې وه. مایک مولن دا ومنل چي پاکستان په سیمه کښي د تروریزم او بنسټپالی سره په مبارزه کښي د امریکاسره چندان ستراتیریکه همکاري نلر ي.
د ډیلي ټیلګراف ورځپاڼې د راپور له مخې دنومبرپر ۱۰ د پاکستان جمهوررئیس زرداري پاکستان ته په سفر یوه تللي امریکایي پلاوي د امریکا د کورني امنیت مشر مایکل مکول ته ویلي چې پاکستان به د امریکا په مرسته په قبایلي سیمه کې د حقاني شبکه وځپي.
ډیره جالبه او زموږ د اولس د ټولوڅرګندونو د پخلی خبره مایکل مکول کړې، هغه وایي ((ده ته دا پوښتنه شته چې ولسمشر زرداري د پاکستان پر پوځ او استخباراتو څومره برلاسی دی چې د افغانستان په اړه تګلاره کې مهم رول ولوبوي.)) تاند
داجنرال صاحب دروان کال دعقرب پر پنځمه د پاکستان استخباراتي ادارې ته یوه بله مشوره ورکوي وایي: ((که نړیواله ټولنه یوبې ثباته افغانستان ترشاپرېږدي او دا هیواد هندوستان سره اړېک نږدې کړي، نو، آی اس آی باید ددې کارسره د مخالفت لپاره لاس پکارسي.))
په ډیره بې شرمۍ سره وایي، افغانستان د پاکستان د جوړېدوله ورځې د پاکستان پر خلاف وو، دا ځکه چي افغانستان دشوروواتحاد او هندوستان سره ښې اړېکې لرلې. دغه خبره ددې څرګنده بیلګه ده چي پاکستاني چاروکو هیڅکله هم زموږ سره په صداقت دوستي نده کړې او نه ئي د دوستی لاس راغځولی، تل ئي دخپلو ګټو او زموږ ولس د خواری لپاره هڅې کړې دي.
د مشرف دا خبره بې ځایه نده، د افغانانو په غوږوکي د تل لپاره باید پاته وي چي وایي: ((کله چي په ۲۰۱۴ کال بهرنیان له افغانستان څخه ووزي موږ به په افغانستان کي د قومی جګړو شاهدان اوسو.)) شبکه اطلاع رسانی افغانستان
د دې ترڅنګ د نومبر پر اومه دا جنرال خپل لیدلی خوب سي این این CNN سره په مرکه کښي داسي بیانوي: (( له افغانستانه د امریکایي پوځیانو له وتلو وروسته به افغانستان د هند او پاکستان ترمنځ د سیالۍ پر میدان بدل شي. ده وویل چې هندوستان په افغانستان کې نفوذ زیات کړی او د امریکایي پوځیانو له وتلو وروسته به پاکستان او هند په افغانستان کې زورازموینه وکړي.))
ګران لوستونکې! دا پورته کرښې د زړه په سترګو ولولئ چي په افغانستان کي د یوشمیر تنظیم سالارو او همدا اوس د اسلام په نامه سوداګرو دغه دوست زما اوستا د وطن په اړوند کوم خوبونه ویني؟ زما اوستا دهیوادوالو په زوروونه اوکړېدنه کښي کومې ګټې لټوي؟


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اوس بیاوایي چې:(( دا هیڅ حقیقت نه لري چې دکوټې شورا شته ده، زما د واکمنې پر مهال سي اي اې او پاکستاني څارګري اداري آی ایس آی په ګډه کار کاوو او هیڅ داسي معلومات یې تر لاسه نکړل چې ملا محمد عمر په پاکستان کې ثابت کړي. مشرف دا هم وویل چې د کوټې شو را اصلاً وجود نه لري او هیڅ کله هم په کوټه کې نه ده سره راغونډه شوې.)) خبریال ویب پاڼه دنمبر نهمه

مشرف غواړی هګه دچاخبره د کالیوسره زموږ په سترګو رادننه سي، هغه وخت هم دوي چاته رښتیانه دي ویلي هر څه ئي پټول اوس هم رښتیانه وایي. ددې سره دا جنرال دا خبره پدې خاطرنه کوي چې پر طالبانو او یاملاعمر اخند مین دی، بلکې پدې خاطرئې کوی چې په پاکستان کې باید بهرني ځواکونه عملیات ونکړي، ځکه نووایي که په ملاعمر او طالبانو پسي امریکا او یابل څوک ګرځي نوهغه په افغانستان کې په کندهار کې اوسیږي. د کندهار په ورانیدو او کندهاریانو په وژلوئې لا داتوراو کرغیړن زړه نه دی سوړسوی.

غیرله مشرف څخه د پاکستان بل هیڅ سیاستوال او چارواکی دا خبره نه کوي. د پاکستان د مشرتابه دغه دروغجنې وعدې چې په افغانستتان کې به دسولې او ثبات راوستو په موخه د افغانستان او نړیوالي ټولنې سره مرسته وکړي دا معنا لري چې د دولت مخالفین د دوي په خاوره کې روزل کیږي، په وسلو او واسکټوسمبال افغانستان ته رالیږل کیږي. او دا دکوټې شورا خبر خودومره رسوا سول چې یوماشوم پرې خبردی. دهمدې شورا په نامه له پاکستان څخه یوځانوژونکی راغلی او په کابل کښې ئې برهان الدین رباني په قتل ورساوه. تر هغه وروسته د ستانبول په نمایشي کنفرانس کې کرزی له زرداري سره په خبروکې له پاکستاني لوري غوښتنه وکړه چې برهان الدین رباني د کویټې دشورا د استازیتوب په نامه د ځان وژونکی لخوا وژل سوی دا پاکستان څخه راغلی ځکه ئې باید په پاکستان کې رېښه پیدااوله بیخه وخیژي، او زرداري هم د مرستي داسي وعده ورکړه چې پلې کول به ئې دخوب لیدل وي، خودغه نیمګړې او نیم بنده واعده پخله د دې معنالري چې داشورا شتون لري او فعالیت کوي.

موږ دڅولسیزو راپدې خوا دهمدې پاکستاني چارواکو په مرسته په جګړه کي ښکیل هیواد په توګه له بده مرغه تر اوسه د خپل ملي حاکمیت د جوړېدو او ساتلو توان نلرو نوځنګه کیداي سي چې موږدي د پاکستاني جنرالانوتر ولکې لاندي هیواد کي چې دوي دیوه قفس په توګه ساتلی مداخله وکړو. تاریخ ثابته کړې چې موږ د مداخلې تکل کله هم نه دی کړی که خبره د ډیورند د کرښي د برخلیک د ټاکلو مسله وي دا هم تر ډیره بریده د کوزي پښتونخوا د پښتنو او بلوڅو په رښتیاني هوډ او تکل پوري اړه لري. البته موږ په تاریخ کي دا توره کرښه نه ده منلې او تل مو دا خبره کړې چې دا کرښه پر موږ تپل سوې ده او موږ تل د کرښې هاخوا یاکوزي پښتنخو تر ستم او استعمار لاندي ولسونود روا حق نه دفاع کړې او دا دفاع دنړیوالو اصولو له مخې زموږحق دی. خو پاکستاني چارواکي لکه چې دهندوستان سره ئې د کشمیر پر مسله سردېوال ته نیولی زموږ سره هم ددې لعنتي کرښې ترنامه لاندي خپله دښمنی پر مخ بیایي. زه پدې باوریم چې که دا کرښه یوڅوک په رسمیت هم وپیژني پاکستاني جنرالان به خپل لاسپوپوڅي د پخواپشان روزي او په یوه او بل نامه به ئې افغانستان تر هغورالیږي تر څودوي لاسپوڅی او دویته منلئ حاکمیت په افغانستان کي واک ته نه وي رسیدلی. دلته مي هغه پر ګرینادا باندي د شوروي امریکا د اختلاف او توندو خبرو د پیل خاطره را پیاد سول، هغه وخت له بریژنیف نه یو ژورنالست پوښتنه وکړه چې تاسو ولي دګرینادا په مسله کې مداخله وکړه او د امریکا حساسیت مو راوپاراوه، بریژنیف په جواب کي ورته وویل چې امریکایان بهانه لټوي که ګرینادا نه واي یوه بله ګرینادا به ئې پیدا کړې واي.

اوس هم که دډیورنډ کرښه نه وي پاکستان هرو مرو یوه بله بهانه او کرښه راپیداکوي . زماغوښتنه له ټولوهغو افغانانونه چې د پاکستاني تورمخو خبره مني داده چې دوي د خپل هیواد د تاریخي اوملي دښمن په توګه وپیژني اود دوي د درغوجنو تبلیغاتو تر تاثیر لاندي رانسي. د پاکستاني دې جنرال له څرګندونو نه چې له هیوادنه تښتیدلی دی باید موږ او تاسو یوڅه زده کړو هغه داچې دوي زموږ د ولس دوستان نه وه او نه به شی. ومن الله التوفیق


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ